Bayerisches Staatsministerium für
Gesundheit und Pflege

## ستاسوصحی معایناتو په باره خبرتیا

د ټولو پناه غوښتونکو لدې کبله صحی معاینات کیږی چه څرګند سی که کومه ساری ناروغی لری او که ضروری وی علاج یې وسی. دغه معاینات په قانونی ډول اجباری (د پناهندګی د قانون ۶۲ ماده) او مفت دی.
که کوم پناه غوښتونکی د صحی معایناتو څخه انکار وکړی نو د پناهندګی د قانون ۶۲ مادی پراساس د اړتیا په وخت کښې و پناه غوښتونکی ته د ځای ورکولو مسؤله اداره به په زور دا کار وکړی.

د صحی معایناتو په چوکاټ کښې ستاسو د روغتیا په باره کښې یوځه ټاکلی معلوماتونه (د سږی او د وینو د معایناتو نتیجې او که ضروری وی د اطراحاتو د معایناتو نتیجه) اخیستل کیږی. دا معلومات ضروری دی چه که ساری ناروغی موجوده وی نو باید ژر تر ژره څرګنده سی او که ضروری وی نو علاج یې وسی او دا معاینات لدې کبله هم کیږی چه نور په دغه ساری ناروغی اخته نه سی.

ددغو معایناتو نتیجې و پناه غوښتونکی ته د ځای ورکولو مسؤلې ادارې ته ورکول کیږی. که کومه ساری ناروغی تشخیصه سی نو تاسو ته اطلاع درکول کیږی او که ضروری وی نو علاج مو هم کیږی. سربیره لدې ستاسو د منطقې و صحت عامه ته هم اطلاع ورکول کیږی (د پناهندګی د قانون ۶۲ ماده اود ساری ناروغییو څخه د ساتلو د قانون ۲۵ او ۲۸ ماده).
تاسې کوالایې سی چه دغې نتیجې وګوری او یوه کاپی یې وغواړی.

### د سږو معاینه (ایکسری)

(د ټولو چه ۱۵ کاله د عمریې پوره سوی دی سږې یې معاینه کیږی چه ساری ناروغی لری که نه)
سل یوه د سږو ساری ناروغی ده که علاج یې ونسی نو سږې خرابوی او نتیجه یې مرګ کیدایې سی. دا ناروغی ډیر ځل بیله درد شروع کیږی، وروسته سږی ټوخیږی، وزن یې لیږیږی او خولې کوی. سل د ایکسرې په ذریعه پیږندل کیږی او په دوا یې علاج کېدایې سی. که څوک سل ولری او دا تشخیص نشی نو د بدن پر نورو اعضاؤ باندې حمله کوی او د همېش دپاره یې خرابوی. لدې کبله په شروع کښې یې د ایکسرې په واسطه تشخیصول یې ضروری دی.
د کوچنیانو او د بلاربه ښځو د سږو د ایکسرې پر ځایې د وینو معاینه کیږی (IGRA-Test).

### د وینو معاینه

(په وینه او په اینه کښې د ساری ناروغی د تشخیص له پاره)
هپاتیتیس بی: یوه ویروسی ساری ناروغی چه یا د وینې یا د جنسی روابط په واسطه انتقال کیدایې سی. دغه ناروغی د اینې د التهاب سبب کیږی.
HIV I او II: یوه ویروسی ساری ناروغی چه یا د وینې یا د جنسی روابط په واسطه انتقال کیدایې سی. دغه ناروغی د AIDS (د بدن د کسبی مقاومت لړیدل) سبب کیږی. که علاج یې ونسی نتیجه مرګ کیدایې سی.

### د اړتیا په وخت کښې د اطراحاتو معاینات

(په کولموکښې د ساری ناروغی د تشخیص له پاره) لکه کله چه تاسې اسهال یاست او که د نورو سره چه اسهال دی په تماس کښې واست.
TPE-Ruhr-Gruppe: د بکټریا تشخیص چه د اسهال سبب کیدای سی.
د کولمې پرازیټ (لکه چینجیان).

### واکسین

واکسین په طبابت کښې د ناروغیو په مخ نیوی کښې یوه انګیزه ناکه وسیله ده.
خپل ځان او خپله کورنی د واکسین په واسطه د ساری ناروغیو - لکه شری – څخه ساتولو له پاره و ستاسو د هستوګنې ځای وطبی خدماتو ته مراجعه وکړی یا و کوم ډاکټر ته ولاړ سی. واکسین ستاسو له پاره مفت دی.

## ستاسوصحی معایناتو په باره خبرتیا



**د سږو معاینه (ایکسرې)**
د سږو ایکسرې
کله چه د عمر ۱۵ کاله پوره سوی وی
(د کوچنیانو یا د بلاربه ښځو د وینو معاینه)



**د وینو معاینه**
کله چه د عمر ۱۵ کاله پوره سوی وی: هپاتیتیس بی، HIV I او II
کوچنیان یا بلاربې ښځې: د سل آزموینه.



**د اړتیا په وخت کښې د اطراحاتو د معاینات**
د اړتیا په وخت کښې د کلمو کښې د مکروبو او لکه
چه د اسهال په وخت کښې د کولمې پرازیتو معاینات



**واکسین**
واکسین د ټولو پناه غوښتونکو د پاره مفت دی.

نښانی
خپرونکی: Bayerisches Staatsministerium für Gesundheit und Pflege
Haidenauplatz 1, 81667 München
www.stmgp.bayern.de
د تنظیم نیټه: نومبر ۲۰۱۵
د مقالې نمبر: stmgp_asyl_003

تیارونکی: CMS – Cross Media Solutions GmbH, Würzburg
د عکسو منشا: fotolia.com: Alexandra Gl; annzakharchenko
چاپ: Druckerei Schmerbeck GmbH, Tiefenbach